# حمزه بابا او ژوند

- خپل نوم یې امیر حمزه خان شنواری دی
- حمزه بابا د خیبر ایجنسۍ په لواړګۍ لنډي کوتل کښي په ۱۹۰۷ کښي زیږیدلی دی.
- د پلار نوم یې ملک بازمیرخان.
- د دوه–نیمو کالو ووچي مور یې مړه سوه، او لومړي زده کړې یې د خپل مشر ورور بلخي خان په تربیت کښي د لواړګۍ د یوې مدرسې څخه وکړې.
- حمزه بابا د خپلې زده کړې سلسله تر لسم ټولګي پورې ورسوله، او بیا یې دا زده کړه پریښوده له.

# حمزه بابا او ژوند

- ډیر دولتي (سرکاري) او غیر دولتي (غیرسرکاري) وظیفې یا دندې (ملازمتونه) یې وکړل خو اخریې دا ټول پرېښوول.
- په ۱۹۳۰ کښې یې پلار مړ سو. او حمزه بابا خپل د اور ګاډي (ریل ګاډي) وظیفه پرېښودله. دا وخت حمزه بابا په پنجاب کښې وو.
- کله چي پېښور ته راغلی، په هم دې ورځو کښې د سید عبدالستار شاه مجلس ډیر اغیزمن کړ او حمزه بابا یې مریدي قبوله کړله.
- حمزه بابا د سیدعبدالستار شاه (باچاجان) څخه د چشتیه تصوفي طریقې لاس نیوی وکړ.
- وئیل کیږي چي تر دې وخته پوري حمزه بابا په اردو ژبه کښې شاعري کوله ، خو د خپل پیر سید عبدالستار شاه په وینا یې خپل پام و پښتو شاعري ته واړولی.

# حمزه بابا او ژوند

- په کال ۱۹۴۱ کښي حمزه بابا د رفیق غزنوي په وینا د لیلي مجنون قصه پښتو کښي ولیکله، او رفیق غزنوي فلم کړه.
- دا د پښتو ژبې ړومبی فلم وو.
- امیر حمزه شنواري ته په لومړي ځل دخیلي یوی غزلي په اورولو سره سمندر خان سمندر د غزل بادشاه خطاب ورکړئ وو او بیا د غزل بادشاه ځخه په بابا یې غزل باندې مشهور سو.
- د هماغي غزلې یو بیت یې داسي دی:

تورې سترګې مي د یار زړه ته په ځیر دي
بیا حبشو په کعبی ترلی لام دی

- حمزه بابا په ۱۹۹۴ کښي مړ سو.

# د حمزه بابا ادبي اثار

- د پښتو ادبي اثار
- د زړه اواز (مذهبي شاعري)
- غزوني-شاعري
- سپرلی په اینه کښې – شاعري
- بهیر – شاعري
- یون – شاعري
- پرې وونې – شاعري
- انساني انا او پوهه – نثر
- د خوشحال خان خټک یو شعر – نثر
- انسان او خدای – خطونه
- سفرنامې – د حجاز په لور – د کابل منظومه سفرنامه –
- نوې چپې – ناول
- او نور

د اردو ادبي اثار

انسان اور زندگی – نثر

انا اور علم – نثر

وجود اور شهود – نثر

تسخیر د کائنات

او نور

# د حمزه بابا شاعري

- د حمزه بابا په اړه وئيل کيږي چي تر يو نيم زر (پنځلس سوه) زياتي غزلې يې ليکلي دي: (ايينې – حنيف خليل مخ۲۶)
- دلته يې ځيني شعرونه د مثال په توګه راوړو:

ګوره سترګې چي مي ډکې ډکې کيږي
نوم د تنګ په خوله وانه خلې باران راغی
اشنا چي راشي وار خطا شي زما
حمزه تر څو به وار خطا اوسمه
غل د محبت غلطيدی نه شي
څوک چي په محفل کښي چاته نه ګوري
چي ستا جبين ته مي نظر ورسيد
تلی شي سپوږمۍ ته او که نه پښتانه

# حمزه بابا او تصوف

- د تصوف په دوو نظریو– وحدت الوجود او وحدت الشهود – کښي د وجودي نظریې فکر په شاعري کښي ډېر ځای ومونډلی.
- حمزه بابا په خپله غزل کښي د وحدت الوجود د نظریې داسي پیروي وکړله چي د ده د غزل یو ښکاره مضمون جوړ سو.
- حمزه بابا په دا فکر وو چي حقیقي وجود یو دی، چي د ټولو کائناتو خالق دی، او مخلوقات د هغه څخه بېل نه دي. بلکې د هغه د وجود صفات دي. او پخپله هیڅ نه دي.
- د حمزه بابا یو څو شعرونه راوړو، چي د فنا د مرحلې وضاحت داسي کوي:

# حمزه بابا او تصوف

ومه څاڅکی خو چي مل شوم له دریابه
اوس په ما د څاڅکي نه کیږي اطلاق
قرار چرته وي د څاڅکي بې له بحره
شته سکون خو چي کامل ته ورسي
حقیقي مې دا بېلتون نه دی نسبت دی
زه د چا سره واصل وم چي جدا شوم
ستا په نوم چي مي خپل نوم او نشان ورک کړو
اوس چي هر یو نوم ته ګورم زما نوم دی

# حمزه بابا او تصوف

- د حقیقي وجود اظهار داسي کوي:

یا خو هیڅ نشته دا واړه وهم و خیال دی
او که وي نو بس د یار به وي وجود

ادراک دی د وجود او نور سېوا چي دی عدم دی
دا څه چي موږه ګورو هم هغه دی نور څه نه دي

# حمزه بابا او تصوف

اجمل ښکلی د حمزه بابا د غزل د شهرت دوه لوی لاملونه دا په ګوته کوي، چي نالوستي يکي خپله مجازي مينه ويني او لوستي يې بيا د تصوف له رازونو او نزاکتونو خوند اخلي، لکه دا لاندي بيت چي له اره د وحدت الوجود فلسفه انځوري:

ته چي ماته وايې چي له مانه ځان قربان کړه
ځان له ځانه څنګه قربانيږي زه حيران يم

چي هر څيز ته نظر وکړمه حمزه دی
چي حمزه ته نظر وکړمه هر شی دی

وم د اصل سره اصل خو چي بېل شوم
اوس په خپله ځُله د خپل ځان په ثنا يم

تهٔ که په پرده کښي وې پرده به پاتي نهٔ وه
ستا بې پردګۍ همه پردې دي پيدا کړي

# د حمزه بابا تصوف او پښتون احساس

- په پښتو شاعري کښې تر حمزه بابا له مخه چې هر څومره متصوف شاعران تير شوي دي، هغو په شاعري کښې يوازې د خداى د قربت او مينې د احساسه نور هر څه پرېښي دي.
- خو حمزه بابا د تصوف د افاقي فکر سره سره د پښتون احساس خپل کړئ دى، چې د حمزه بابا امتياز دى.
- له دې کبله د هغه و تصوف ته د پښتون تصوف نوم هم ورکړئ شوى دى.
- قلندر مومند د حمزه بابا د پښتون تصوف په هکله وائي.
- "زۀ نۀ پوهېږم چې دا څۀ چل دى چې هر څو که زۀ تصوف سره هيڅ مس نۀ لرم او که رښتيا رانه پوښتنه کوئ نو چې څۀ مې د تصوف په هکله لوستي دي د هغې اکثريت د تصوف نه مخالف دي. خو بيا هم چې ما کله د حمزه صيب کلام کښې د تصوف نخښې لوستي کتلي او اورېدلي دي نو زما ذهن ئې ځان ته راکښلى دى.د دې وجه شايد چې دا وي چې د حمزه صيب تصوف د پښتون تصوف وي.

# د حمزه بابا تصوف او پښتون احساس

- حنیف خلیل لیکي: چې د حمزه بابا دغه پښتون احسان د هغه د افاقي متصوفانه فکر په لاره کښي خنډ هم جوړ شي، خو په هر حال حمزه بابا د خپل ملي احساس د هېرولو یا پرېښودلو قرباني نه ورکوي، ځکه خو يې د عشق او پښتونولۍ امتزاجي کیفیت پیش کولو د پاره دا ډول شعرونه هم وئیلي دي:

ماهیت ورته لیمه کړه زما سره نه ټیټېده
شائدچې په الفت کښې هم افغان پاتې کېدم
حق لرې سرټیټ چې له ماغوارې ته
څه کړمه اشنا چې زه افغان یمه
دا و پښتون اشنا ته وایه توقع وه د چا
چې تشې تورې به ستنې کړې مېلمنې لمنې

# د حمزه بابا تصوف او پښتون احساس

عشقه که وصال د سرکوزۍ په بدل راشي
خدائیګو پښتون هوډ مي انکاري دی له دې داده

ما حمزه ته يثربي باده خاونده
په ښاغلي پيمانه کښې د افغان را